# داوطلبۍ ته بلنه

# داخلي پرانیستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک لپاره د 5MB FIU, 4 MB PCR and 25MB IT Network Backup انټرنټ خدماتو چمتو او تدارک کول

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1403/NCB/NCS10

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د 1403 کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د DAB/1403/NCB/NCS10داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { د تحویلۍ د جدول مطابق } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د ( Rahman.zarin@dab.gov.af // anas.khalili@dab.gov.af ) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د یکشنبې ورځ سهار له {10:00} بجو مخکې 1403/05/21 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی پیسی

۸. د آفر د تضمین مبلغ 23،973 دوه ویشت زره نه سوه دری اویا افغانۍ

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه 28 ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1403/05/21 څخه تر 118 ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د 15.2 مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1. نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې ټولیز ارزښت: ( 199،777 یو سلو نه نوی زره اوه سوه اوه اویا افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نېټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کېږي.

**یادونه : د داوطلبۍ څخه مخکې غونډه د 1402/05/13 نیټه د شنبې ورځ د سهار پر 10:00 بجې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت کی دایریږی**

د آفر د سپارلو پته:

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 794151919 (0) 93+

بریښنالیک: Rahman.zarin@dab.gov.af // anas.khalili@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af